AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

لیکوال: شتیفان څوایگ
ژباړن: ډاکتر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۰/۱۲/۲۷

# د شطرنج کیسه

## دویمه برخه

ما باید د میک کانر په شان پر ځان باورلرونکي سړي په وړاندي د دریمي درجي لوبغاړو صفت نه وی کارولی. هغه په غوسه پر شا تکیه وکړه او په کلکه یې وویل، فکر نکوي چي چینتوویچ به د یوه ویاړلي سړي له مؤدبي غوښتني ډډه وکړي او دی به دا کار سمبال کړي. ما هغه ته د ده له غوښتني سره سم، د نړیوال اتل په اړه لنډ معلومات ورکړل، او له هغي وروسته یې سمدلاسه زموږ د شطرنج تخته په بي پروایی خوشي کړه، په بی کنټروله ناصبری یې په چینتوویچ پسي د بېړی د عرشي دهلیز ته ورودانګل. ما ته بیا دا احساس راپیدا شو، کله چي د دومره پراخو متو خاوند دا سړی یو څه وغواړي نو نور تم کېدای نشي.

زه هغه ته په هېجاني توګه سترګي په لاري وم. میک کانر له لسو دقیقو وروسته بېرته راستون شو او وه مي لیدل چي زیات خوشحال نه معلومېږي.

پوښتنه مي ترینه وکړه، «ښه، نو څه یې وه ویل؟»

هغه لږ څه په غوسه راته وویل، «ستا خبره سمه وه. چندان سړی نه دی. ما خپل ځان ورپېژندلو او ورته وه مي ویل چي څوک یم. هغه حتی لاس هم نه رانکړو. ما هڅه وکړه هغه ته ووایم که له موږ تولو سره د شطرنج یوه هم وخته لوبه وکړي نو دا به په بېړی کي موږ تولو ته څومره یو لوی ویاړ وي. خو هغه هماغسي بي حرکته پاتي شو او بخښنه یې وغوښته، دا چي د خپل اجنټ پرووراندي قراردادي مکلفیتونه لري کوم چي هغه په ځانګړي توګه د سفر په اوږدو کي له وریا لوبو منع کوي. او د یوي لوبي ارزښت یې لږترلږه دوه سوه پنځوس ډالره دی.»

ما وخندل. «ما هیڅکله سوچ نه کاوه چي له تورو څخه سپینو خانو ته د دانو خوځول به دومره ګټور کاروبار وي. ښه نو هیله مند یم چي تاسو به هم په هماغه اندازه مؤدبانه توګه رخصت ترینه اخیستی وي.»

خو میک کانر په بشپړ ډول جدي و. «د لوبي وخت سبا ماسپښین درې بجي ټاکل شوی دی. دلته د سګرټ څکولو په کوټه کي. هیله مند یم چي په آسانی به مات نه شو.»

ما په اندېښمنه توګه ورته وویل: «څه مو وویل؟ تاسو له هغه سره دوه سوه پنځوس ډالر ومنل؟»

«ولي نه؟ دا ده هغه دنده ده. که ما د غاښ درد لرلای او په بېړی کي په تصادفي توګه د غاښونو ډاکتر موجود وای نو ما به ترینه دا غوښتنه نه وای کړي چي باید زما غاښ په وړیا توګه وباسي. هغه سړی حق لري چي لوړ نرخ وټاکي؛ په هر مسلک کي غوره کارپوهان له تولو غوره سوداګران دي. او زما په آند: هرڅومره چي یوه معامله روښانه وي هغومره ښه ده. زه ترجیح ورکوم چي نغدي پیسي ورکړم، د دې پرځای چي د ښاغلي چینتوویچ له خوا رحم راباندي وشي او په پای کي ترینه شکرګزار وه اوسم. زموږ په کلب کي مي په یوه شپه له دوه سوه پنځوس ډالرو زیاتي پیسي بایللي دي او په دې لړ کي مي له کوم نړیوال اتل سره لوبه هم نده کړې. د <دریمي درجي> لوبغاړو لپاره د شرم خبره نه ده چي د چینتوویچ له خوا مات شي.»

ماته له دې کبله خندا راغله چي د میک کانر پر ځان باورته مي د <دریمي درجي لوبغاړي> پر یوه ساده کلمه څومره زوړ سپکاوی کړی و. خو څرنګه چي هغه د دې ګراني لوبي لپاره تأدیه کولو ته چمتو و، نو ما د ده له بېځایه ځانپالني سره هیڅ اعتراض نلرلو، کومي چي په پای کي زما د کنجکاوی د موخي له سړي سره زما پېژندګلوي برابروله. موږ په چټکتیا څلورو یا پنځو کسانو ته چي د مخه یې ښودلي وو چي د شطرنج لوبغاړي دي، د راتلونکي لوبي په اړه خبر ورکړ، او د لارویانو لخوا د امکان تر حده د کم مزاحمت لپاره مو نه یوازې خپل میز، بلکه د هغه ترڅنګ میز هم د راتلونکي سیالی لپاره ریزرف کړو.

بله ورځ زموږ کوچنی ډله په ټاکل شوي وخت په بشپړه توګه حاضره شوه. البته د اتل مخ ته منځنی ځای میک کانر ته ځانګړی شوی و، چا چي خپله ببره یوه او بل پسي د قوي سیګارو په بلولو او په دوامداره توګه ساعت ته په کتلو کموله. مګر نړیوال اتل ـ ما د مخه هم د خپل ملګري د کیسو پر بنسټ د دې خبرې انتظار لرلو ـ پوره لس دقیقې ناوخته راغو. خو دې کار هم د ده راڅرګندېدني ته لوړ وقار وروبخښلو. په کراری او آرام د میز خواته لاړو. داسي ښکارېدل چي د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

هغه دا بې ادبي، پرته له دې چې ځان راوپیژني، راته وایي: «تاسو پوهیږی چې زه څوک یم او ماته ارزښت نلري چې تاسو څوک یاست.» او په دې توګه یې په مسلکي بې پروایي د دانو تخنیکي سمبالونه پیل کړه. هغه ووېل، څرنګه چې دلته په بېړۍ کې له ځو کسانو سره په عین وخت لوبه د شطرنج د تختو د کمښت له امله شوني نده، نو وړاندیز کوي چې موږ ټول د ده پرووړاندې په ګډه توګه لوبه وکړو، او زیاته یې کړه چې له هر حرکت وروسته به، د دې لپاره چې زموږ په مشورو کې خنډ رامنځته نکړي، د کوټې په پای کې به بل میز ته لاړ شي. هرکله چې مو خپل حرکت ترسره کړو، نو څرنګه چې له بده مرغه پر مېز زنګ موجود ندی نو باید کاشوغه پر ګیلاس ووهو. هغه د هر حرکت لپاره، که موږ بل مهالویش ونه غواړو، د لسو دقیقو اعظمي وخت وړاندیز وکړو. البته موږ د بې جرأته زده کوونکو په څېر د ده له هر وړاندیز سره هوکړ وکړو. چینتوویچ ته د رنګ په ټاکنه کې تور رنګ ورپه برخه شو؛ خپل مقابل حرکت یې په داسې حال کې چې ولاړ و ترسره کړو او سمدلاسه د تمېدو هغه ځای ته لاړو چې وړاندیز یې کړی و، په آرامه توګه یې تکیه وکړه او د یوې مجلې کتنه یې پیل کړه.

بې معنی خبره به وي چې د لوبې په اړه څه ووایم. لوبه هغسې پای ته ورسیده چې باید پای ته رسېدلې وای، په څلورویشتم حرکت کې زموږ له بشپړې ماتې سره. دا د لږې حیرانتیا خبره وه چې د شطرنج نړیوال اتل پنځه، شپږ تنه منځني یا نیمه منځني لوبغاړي په آسانۍ مات کړل؛ موږ ټولو ته ځورونکې خبره د چینتوویچ له خوا د هغې غښتلې لارې څرګندونه وه چې موږ ټول یې په آسانۍ پرې مات کړو. هغه هرځل ظاهراً تختې ته یوازې لنډه کتنه کوله، له موږ څخه ئی بلې خواته په آرامه کتل، داسې لکه چې موږ پخپله د لرګیو دانې یو، او د ده دې بې باکه چلند په غیرارادي توګه د هغه چا چلند رایاداوه چې وحشي سپي ته، بې له دې چې ورته وګوري، یوه ټوټه خوراک وراچوي. زما په آند که یو څه احساس یې لرلای، نو کولای یې شول زموږ پام زموږ غلطیو ته راواړوي او یا مو په یوه مهرباني کلمې خوشحال کړي. مګر حتی د لوبې له پای ته رسیدو وروسته هم د شطرنج دې ناانسان ماشین یوه کلمه خبره ونکړه، بلکه له هغې وروسته چې وه یې ویل «مات»، د میز مخې ته بې حرکته ودرېد، داسې لکه چې څوک غواړي له ده څخه د دوهمې لوبې غوښتنه وکړي. زه له خپل ځایه پورته شوی وم تر څو په بې وسه توګه د بې رحمۍ په وړاندې په خپل حرکت ښکاره کړم چې د ډالرو پر دې معاملې لړترلږه زموږ د پېژندګلوۍ خوشحالي پای ته رسېدلې ده. پر دې مهال مې له څنګه د میک کارنر غلې غږ چې په غوسه یې کړم، واورېد: «د غچ اخستنې لوبه غواړم!»

د ننګونکي دې غږ حیران کړم؛ په حقیقت کې میک کانر په دې شیبې کې د یوه مؤدب سړي په څېر نه، بلکه له سوک وهلو مخکې، د یوه سوکوهونکي په څېر ښکارېده. دا چې علت یې زموږ په وړاندې د چینتوویچ بد چلند و او یا یوازې د هغه جسمي راپارېدونکي ځانپالنه وه، خو په هر حال، د میک کانر طبیعت په بشپړ ډول بدل شوی و. مخ یې د تندي تر وېښتانو پورې سور اوښتی و، د پوزې سوري یې د بدن له ننه فشار له امله راپړسېدلې وو، په څرګنده توګه خولې پرې راروانې وې او د تروشو شونډو یوه څنډه یې د مخکې راوتلې زنې څخه په جګړه ایزه توګه مخکې راوتلې وه. ما د هغه په سترګو کې په ناآرامۍ بې قابو مینه او شوق ولیدل، کوم چې انسانان یوازې د رولیټ پر میز تر خپلې ولکې لاندې راولي، کله چې د شپږم یا اووم ځل لپاره هم، هر ځل له دوه چنده پیسو ایښودلو وروسته، دانه د پام وړ رنګ خونې کې ونه درېږي. زه په دې شیبې کې پوهېدم چې دا سختدریځه لېوال به د چینچتوویچ په وړاندې تر هغه لوبه وکړي، ترڅو چې لږترلږه یو ځل لوبه وګټي، که په یو او یا دوه چنده پیسو هم وي؛ آن که خپله ټوله شتمني هم وبایلي. که چینتوویچ لوبو ته دوام ورکړو، نو هغه به د میک کانر په وجود کې د سرو زرو یو کان ومونډي چې له هغه څخه به بونیس آیرس ته تر رسېدو څو زره ډالره وګټلای شي.

چینتوویچ د کوم احساس له څرګندونې پرته په نرمۍ ځواب ورکړ: «مهرباني وکړئ، اوس به نو ښاغلي په تورو دانو لوبه وکوي.»

دوهمه لوبه هم بل شان نه وه، پرته له دې چې ځیني کنجکاوو کسانو زموږ ډله نه یوازې لویه کړې وه، بلکه توده کړې یې هم وه. میک کانر دومره په دقت تختې ته کتل لکه چې غواړي په خپله اراده د شطرنج دانې ګټلو ته راوپاروي؛ ما احساس کاوه چې د خپل آرام سیال په وړاندې له خوښۍ د «مات» غږ ایستلو لپاره د زرو ډالرو قرباني ورکولو ته هم چمتو و. د تعجب خبره دا ده چې د هغه سرسخت هیجان پر موږ هم اغېز وکړو. د هر حرکت په اړه مو په احساساتي توګه بحث کولو او په وروستۍ شیبې کې مو، مخکې له دې چې له یوه او بل سره هوکړ وکړو، یو او بل منع کولو چې چینتوویچ ته مېز ته د راتلو اشاره وکړو. په تدریجي توګه اوولسم حرکت ته رسیدلي وو. موږ دې ته حېران وو چې د شطرنج د دانو یو حالت رامنځته شوی و چې په حېرانوونکې توګه زموږ لپاره ګټور ښکارېده، ځکه چې پر دې توانېدلي وو چې د c کرښې پیاده تر c2 خانې ورسوو، چې تر پایه یوه بله خانه پاتې وه؛ هغه مو باېد یوازې c1 خانې ته خوځولې وای، ترڅو یو نوی وزیر جوړ کړو. البته چې موږ له دې ډېر څرګند فرصت څخه په بشپړ ډول د هوساینې احساس نه کولو؛ په ګډه توګه شکمن وو چې هغه برلاسی چې موږ ظاهراً له چینتوویچ څخه ترلاسه کړی و او ګڼې دا چې هغه به دا روښانه وضعیت نه وي لیدلی، باېد په قصدي ډول موږ ته د کب نیولو په چنګک کې یوه دانه وي. مګر سره له ګډ لټون او خبرو اترو مو پټ دام ونشو موندلای. بلاخره مو د ټاکل شوي وخت له پای ته رسېدو لږه موده مخکې پرېکړه وکړه چې د حرکت جرأت وکړو. میک کانر پر پیاده لاس ووهلو ترڅو هغه آخري خانې ته وخوځوي. پر دې مهال یو چا د هغه لاس په ناڅاپي توګه ونیولو او په غلي او جدي توګه یې پسپسی ورته وکړو: «د خدای لپاره! دا کار مه کوئ!»



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راللرلو مخکې په ځیر و لولئ

مورې ټولو په غير ارادي توګه مخ ورواړلو. ښايي چې دا نږدې پنځه ځلوېښت کلن سړی به چې د نري او برجسته مخ عجيب او نږدې د تباشيرو په شان سپينوالي يې زما پاملرنه له دې مخکې د بېړۍ د ګرځېدو په ځای کې ځانه جلب کړې وه، په وروستيو څو دقيقو کې، هغه مهال زمونږ خواته راغلی و چې مورږ خپل ټول پام خپلې ستونزې ته اړولی و. کله چې يې پام شو چې مورږ د ده خواته ګورو، په چټکه توګه يې زياته کړه:

«که تاسو همدا اوس يو وزير جوړ کړو، نو هغه به يې سمدلاسه پر فيل د c1 په خاني کې وخوري. تاسو به يې فيل پر آس وخورئ. خو هغه په دې وخت کې خپل آزاد پياده d7 خاني ته خوځوي، د تاسو رخ تهديدوي، او آن که تاسو پر خپل آس کشت هم وواياست، لوبه بايلئ او له نهو څخه تر لسو حرکتونو وروسته مات کېږئ. دا تقريباً د دانو هغه ورته ترکيب دی چې په ۱۹۲۲ کال کې اليشين د بوګوليبوبوف په وړاندې د پيستيان په لوبه سيالی کې رامنځته کړی و.»

مک کانر په حيرانتيا خپل لاس د شطرنج له دانې ليرې کړو او له مورږ ټولو سره يې له جنت څخه دې نازل شوي پرښتې ته وکتل. يو چا چې کولای شول نهه حرکته د مخه مات سنجش کړي، بايد لومړۍ درجه مسلکي لوبغاړی وي، آن حتی د اتلولی لپاره يو سيال چې ورته سيالی ته به يې سفر کولو او د هغه ناڅاپي رارسيدل او په داسي يوه حساسه شيبه کې لاسوهنه يوه له باور بهر ښه لرله. له ټولو د مخه ميک کانر بيا آرام شولو.

په هيجاني توګه يې په پسپسي ورته وويل: «تاسو څه مشوره راکوئ؟»

«سمدلاسه مخ پر وړاندې حرکت مه کوئ، بلکه په لومړي سر کې په شا تګ وکړئ! د ټولو د مخه پاچا له ګواښمنې کرښې راوباسئ او له g8 يې h7 خاني ته وخوځوئ. ښايي چې هغه به بيا خپل بريد له بلې څنډې پيل کړي. تاسو د دې په وړاندې له c8 نه c4 ته د فيل په خوځولو، دفاع وکړئ. دا کار هغه دوه حرکته په شا اچوي، يو پياده او خپل برلاسی له لاسه ورکوي. په دې حالت کې يو آزاد پياده د بل آزاد پياده په وړاندې دربرېږي، او که تاسو خپله لوبه په دفاعي توګه مخ په وړاندې بوتله، نو لوبه به مساوي شي. له دې زيات کوم بل شی نشئ ترلاسه کولای.»

مورږ بيا هم حېران شولو. د هغه دقت چې د ده د سنجولو له چټکتيوالي کم نه و، مغشوشونکی و. داسي ښکارېدل لکه چې حرکتونه له يوه چاپ شوي کتاب لولي. په هر حال، مورږ ته دا ناڅاپي فرصت ترلاسه شوی و چې د نړېوال اتل په وړاندې يوه لوبه په جادويي توګه مساوي پای ته ورسوو. په ګډه سره يوې خواته شولو، ترڅو هغه وکولای شي تختې ته وګوري.

ميک کانر بياهم وپوښتل: «پاچا له g8 خاني نه h7 خاني ته بوزم؟»

«هو! مهمه دا ده چې تر شا حرکت وکړئ!»

ميک کانر د ده خبره ومنله او ګيلاس يې وټکولو. چينتوويچ په خپلو بې پروا ګامونو زمورږ د مېز خواته راغو او په يوه نظر يې زمورږ متقابل حرکت وسنجولو. بيا يې پياده د پاچا په جناح کې له h2 څخه h4 ته وخوځولو، دقيقاً هماغسي چې زمورږ ناشناس مرستندوی يې وړاندوينه کړې وه. او دې سړي بيا هم په پسپسي ووېل:

«رخ مخکې کړه، رخ مخکې کړه، له c8 څخه c4 ته، هغه بايد لومړی خپل پياده تر پوښښ لاندې ونيسي. خو دا کار به هغه ته کومه مرسته ونکړي! تاسو خپل آس، بې له دې چې د ده د آزاد پياده په فکر کې وه اوسېږئ، له d3 څخه e5 خاني ته وخوځوئ او په دې توګه توازن رامنځته کېږي. د دفاع پر ځای، ټول فشار مخ پروړاندې واچوئ!»

مورږ د هغه په مطلب نه پوهېدو. زمورږ لپاره، په هغه څه پوهېدل چې راته ويل يې، ګران کار و. خو کله چې ميک کانر د هغه تر اغېز لاندې راغو، نو بې له دې چې سوچ وکړي، هغه څه يې کول چې ورته ويل يې. مورږ بياهم ګيلاس وټکولو ترڅو چينتوويچ ځانته راوغواړو. هغه د لومړي ځل لپاره په چټکۍ د حرکت لپاره پرېکړه ونکړه، بلکه په هېجاني توګه يې تختې ته وکتل. بانه يې په غېرارادي توګه سره راغونډ شول. بيا يې عين حرکت وکړو چې ناشناس سړي يې وړاندوينه کړې وه او د تلو لپاره يې مخ وګرځاوه. خو مخکې له دې چې بېرته لاړ شي يوه نوې او ناڅاپي پېښه رامنځته شوه. چينتوويچ خپلې سترګې لوړې کړې او مورږ ته يې وکتل؛ داسې ښکارېدل لکه غواړي پوه شي چې چا د ده په وړاندې يو ځلې توګه دا ډول مقاومت ښکاره کړی دی.

له دې شېبې وروسته زمورږ هېجان بېحده زيات شو. تر دې مودې مو بې له جدي هيله مندۍ لوبه کوله، خو اوس مو د چينتوويچ ساړه غرور ته د ماتې ورکونې سوچ په ټولو رګونو کې د تبې ولولې رامنځته کړې. نوي ملګري مو د نوي حرکت امر کړی و او مورږ وکولای شول چينتوويچ ځانته راوغواړو - کله مي چې کاشوغه پر ګيلاس وهله ګوتې مي لړزيدلې. دا مهال مو لومړی برې ترلاسه کړو. چينتوويچ، چې تر اوسه يې په ولاړه لوبه کوله، زړه نازړه و او بالاخره ورو او په ستونزمنه توګه کيناست؛ او په دې توګه زمورږ او د ده ترمنځ له جسمي پلوه د لوړ او ټيټ توپير چې تر دې مودې پورې موجود و، له منځه لاړو. مورږ هغه دې ته مجبور کړی و چې لږترلږه له مکاني لحاضه له مورږ سره په يوه پوړ کې کيني. زياد سوچ يې وواهه، سترګې يې بې حرکته پر تختې نښتې وې، داسې چې نور يې چا د تورو ښو لاندې د سترګو غوټې نشوای ليدلای او د سخت فکر کولو پر مهال يې خوله ورو ورو خلاصه شوله چې ګرد مخ ته يې يوه احمقانه بڼه ورکړه. چينتوويچ څو دقيقې سوچ وواهه، له هغې وروسته يې خپل حرکت ترسره کړو او له ځايه اوچت شو. پر دې مهال زمورږ ملګري په پسپسي راته وويل:

«ځنډونکی حرکت! ښه کار وشو! خو مه پرې غولېږئ! تبادلې ته يې مجبور کړئ، هرومرو تبادله رامنځته کړئ، بيا به نو لوبه مساوي شي او هيڅ قدرت به ونشي کړای چې مرسته ورسره وکړي.»

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

میک کانر هغه څه وکړل چي ورته وه یي ویل. په نورو حرکتونو کي د دواړو ترمنځ داني آخوا او داخوا شولي بې له دې چي موږ پې پوه شو. اوس نو موږ پر لیدونکو بدل شوي و. چینتوویچ له څه ناڅه اوه حرکتونو وروسته سترګي پورته کړي او وه یي ویل: «مساوي.»
د یوې شېبې لپاره کامله چوپتیا خپره شوه. سږي په یوځلي توګه کولای شول د څپو غږ، له سالون څخه د راډیوغږ، د ګرځېدو له دهلېز څخه د هر ګام غږ او د باد د نرم او ښکلي وځښت غږ واوري چي د کړکیو له سوریو تېرېدو. موږ ټولو سا بنده کړي وه. ډېره ناڅاپي پیښه رامنځته شوې وه، او موږ ټول دې ناشوني خبرې ته حیران وو چي دې ناشناس سړي خپله اراده په نیمه باېللې لوبه کي پر نرېوال اتل عملي کړه. میک کانر ټکان وخوړلو، تر شا شو او بنده شوې سا يي په آرامه توګه د «ها!» کلمي په غږ له شوندو رابهر شوه. ما چینتوویچ ته کتل. د وروستیو حرکتونو په لړ کي داسي راته ښکارېدل چي رنګ یي لږ څه سپین اوښتی و. خو هغه پوهېدو چي څنګه ځان کنټرول کړي. په ظاهراً بې تفاوته توګه بې خوځښته پاتې شو او په داسي حال کي چي داني يي له تختي ایسته کړې، یوازې یي په آرامه توګه وپوښتل:
«ښاغلي یوه بله لوبه کول هم غواړي؟»
هغه دا پوښتنه یوازې د خپل کاروبار او له مسلکي پلوه وکړه. مګر عجیبه خبره دا وه چي په دې لړ کي یې میک کانر ته ونه کتل، بلکه سترګي یي په ځیر او مستقیم ډول زموږ ژغورونکي خواته ورجګي کړې. هماغسي چي یو آس یو نوی، یو غوره سپور پر خپل زین د مضبوطي کیناستني له مخې پېژني، هغه هم باید خپل اصلي سیال په وروستیو حرکتونو پېژندلی وي. موږ په غیر مستقیم ډول د هغه سترګي تعقیب کړې او د ناشناس سړي خواته ځیر شولو. خو مخکي له دې چي دا سړی د ځواب ورکولو په اړه سوچ وکړي، میک کانر د خپل له هیلو او بریا ډک هیجان پر بنسټ ورته وویل:
«روښانه خبره ده! خو اوس باېد تاسو د هغه په وړاندې یوازې لوبه وکړئ! تاسو یوازې د جینتوویچ په وړاندی!»
خو دا مهال په ناڅاپي توګه یو څه پیښ شول. ناشناس سړي چي سترګي لا یې هم په حیرانتیا د شطرنج له دانو پاکي شوي تختي ته ځیري وې، ټکان وخوړلو، څکه چي دې خبرې ته یې پام راواوخت چي د ټولو سترګي ده ته اوښتي وې او وه یي لیدل چي په زیاته لیوالتیا مخاطب شوی دی. د هغه بڼه ناآرامه شوه.
په ښکاره او اندېښمنه توګه یې وویل: «دا بالکل ناشوني خبره ده ... زه دا کار نشم کولی ... زه له شلو کلونو، نه له پنځه ویشتو کلونو راهیسي د شطرنج تختي مخي ته نه یم ناست... او ... او اوس زه ګورم چي څومره بد کار مي وکړو چي د تاسو له اجازې پرته مي ستاسو په لوبه کي لاسوهنه وکړه ...هیله کوم چي زما بېځایه لاسوهنه وبخښئ ... زه یقیناً نه غواړم نور تاسو وځوروم.» او مخکي له دې چي موږ له خپلي حیرانتیا رابهر شو، له کوټي وتلی او تللی و.
له شور ډک میک کانر میز پر سوک وواهه او په لوړ غږ یې وویل: «دا بالکل ناشوني خبره ده! بېخي ناشوني خبره ده چي دې سړي به پنځه ویشت کاله د شطرنج لوبه نه وي کړي! هغه هر حرکت، هر مقابل خوځښت شپږ حرکته مخکي سنجولو. دا کار سړی په آسانی نشي ترسره کولای. دا بېخي ناممکنه ده ـ همداسي نه ده؟»
میک کارنر د روستي پوښتني پر مهال خپل مخ په بې اختیاره توګه د چینچوویچ خواته واړولو. خو نړېوال اتل آرام پاتې شو.
«زه نشم کولی په دې هکله کوم نظر څرګند کړم. په هر حال، دې ښاغلي په عجیبه او جالبه توګه لوبه وکړه؛ ما له همدې کبله په عمدي توګه یو چانس ورکړو.» هغه پر دې مهال له خپل ځایه اوچت شو او په خپله مسلکي بڼه یې زیاته کړه:
«که ښاغلی او یا ښاغلي غواړي چي سبا یوه بله لوبه هم وکړي، نو سبا له درو بجو ورسته ستاسو په خدمت کي یم.»
موږ خپله پټه مسکا ونشوه نیولای. ټول پوهېدو چي چینتوویچ په هیڅ وجه د سخاوت له مخې زموږ مرستندوی ته کوم چانس ندی ورکړی او د ده دا خبره د ده د ناکامۍ د پټولو لپاره له یوې ساده بهانې بل څه نه و. له دې سره د دا شان نه ماتېدونکي غرور د سپکاوي د کتني په اړه زموږ لېوالتیا هم هغومره زیاته شوه. په ناڅاپي توګه پر موږ، د نړۍ سوله ایزو، آرامو وګړو، د مبارزې یوې وحشي او ځانپالي روحیې ولکه وکړه، څکه چي په سمندر کي په دې بېړۍ کي د نړېوال اتل لقب د له لاسه ورکوني سوچ او دا چي دا خبر به د تلګراف له لارې په ټوله نړۍ کي خپور شي، په ننګوونکي توګه راپاروله. بله خبره چي موږ یې ځان ته راکاللي وو د هغه پټ راز جذابیت و چي زموږ له ژغورونکي څخه د هغه د لاسوهنې پر مهال، په حساسو شېبو کي رامنځته شو. د دې ترڅنګه زموږ لپاره د هغه د کابو وېروونکي تواضع او پر ځان ثابت باور ترمنځ، د یوه مسلکي انسان په وجود کي تضاد، د ډېر پام وړ و. دا ناشناس سړی څوک و؟ آیا دلته د شطرنج یو تراوسه ناپېژندل شوی نابغه، په تصادفي توګه راڅرګند شوی و؟ آیا یوه نامتو اتل موږ ته د ناڅرګندو لاملونو له مخې خپل نوم له موږ څخه پټ ساتلی و؟ موږ پر دې ټولو شونتیاوو په هیجاني توګه بحث وکړو، پر ټولو شونو فرضییو مو خبرې وکړې، ترڅو د دې ناشناس سړي د معمایي شرمندوکی او بې جرأتی او د هغه د لوبې حیرانوونکي او ښکاره هنر ترمنځ اړیکه رامنځته کړو. موږ ټولو پر یوه خبره ګډ نظر درلود: په هیڅ ډول باید د یوې نوې لوبې له لېدو سرغړونه ونکړو. موږ پرېکړه وکړه چي باېد پوره هڅه او هاند وکړو ترڅو زموږ مرستندوی بله ورځ د چینتوویچ په وړاندې لوبې ته حاضر شي. میک کانر د لوبې مادي تاوان په غاړه اخستني ته چمتووالی څرګند کړ. دا سړی د بېړۍ خدمتګار د معلوماتو پر بنسټ له اتریش څخه و. نو د هغه د وطندار په توګه، هغه ته زموږ د هیلې رسولو دنده ماته راوسپارل شوه.
د دوېمي برخي پای

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ